
لنډه کیسه
رنډۍ
Ketabton.com
لیکوال : افتخارالله افتخار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 《 بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ 》

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پیژنده

---


نوم رنډی / لنډه کیسه

لیکوال افتخارالله افتخار

ایډیټ ا.ر افتخار

کمپوز ا.ر افتخار

پښتی ډیزاین ا.ر افتخار

تاریخ ۱۴۰۲ / ۰۴ / ۵

چینل https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar

فسبوک Aftekharullah Aftekhar

واتساف 00989908400450


په خپل نوم د خپرولو حق هیڅوک نه لري. حقوق له لیکوال سره خوندي دي

**زما نشري شوې کیسې**

۱سپیڅلې ښځه / لنډه کیسه

۲ ماته منظوره ده / لنډه کیسه

۳ د ښځې خور سره / لنډه کیسه

۴ رنډی / همدا اثر

هیره دې نه وي چې دا ټولې کیسې د Aftekharullah Aftekhar په ټلګرام کې موندلی شئ، بلکل پري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

( هاغو ژونديو ته چې د محبت په نوم وژل شوي
او اوس هـــم د مينې ترانې پــــــه لــوړ غږ وايي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

که په دې طمعه ناست یې چې یو وخت به هر څه ښه شي نو همدا اوس پاڅه، ځکه که هر څه خپله سمیدای شوای نو حرکت د څه لپاره دی؟ موخه مې دا ده چې تر کومه به پلار، ورونه د لور او خور حقونه د فرش لاندې کړي؟ پښتونو! که مینه کول درته د جونو جرم ښکاري؟ دا هم جرم دی. نه ورته غوږ ږدئ او نه یې اورئ. همدارنګه د پښتو په بالښت ډېره ووهه او د اسلام کتاب مطالعه کړه. چاته چې رب تعالی د خوښې اختیار ورکړي نو دې کې به ډېر حکمتونه وي. بس کړه، له دې بی ځایه پښتو او غیرت نه تیر شه چې سبا پکې لور او خور څخه **رنډۍ** جوړېږي. په دې زه او ته ملامت یو. راځئ چې له خور او لور نه د هغې د رشتې خوښه انتخاب واورو. دا دې ګاونډۍ نه، ستا لور او خور ده. په ډاډه زړه ورسره وغږېږه او وایې وره چې راتلونکې کې نه ته پښیمانه شې او نه لور او خور.

دا کیسه به تاسې ته خپله وغږېږي چې حقیقت څه دی او څه څه ګټې لري. ډاډه یم چې ما به د نوم انتخاب کې زیاتی نه وي کړی، که مې تولنه کې دا کیسې نه پیدا کیدې نو ما به داسې قلم نه روانوله. منم چې د رنډیو واقعې کمې دي خو که پام وکو له څاڅکي څاڅکي باران جوړېږي. راځئ چې د دې باران لپاره د امن چتر په سر ودرو لکه څنګه چې زوی انتخاب اورو منو، داسې که د لور او د خور نه منو، باید وایې ورو او پریکړې ته یې احترام ولرو. ژوند دلته بیا نه راګرځي. هر کس باید خپله مینه خپل حق ترلاسه کړي.

خبرې نه اوږدووم خو که کیسه کې کومه تیروتنه شوې وه، د یو کوچني ورور په حیث راته ښښنه او په ګوته کړئ. زه ستاسې نظریو ته احترام لرم.

دا تاسې او دا رنډۍ لنډه کیسه...

ستاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افتخارالله افتخار

# پیل

د شهادت په ګوته یې پیاله د کونډې په زریعه تاووله یو دم یې په ورغوي د پیالې ساه بنده کړه.

عصمت ته یې مخ کړ.

-زه یو نظر لرم!

عصمت له غړپ ورسته پیاله لاس کې ونیوله د اوریدو لپاره یې وریځې تندې ته وخوځولې

جواد خبرې پیل کړې پیالې ساه واخیسته

ـ ګوره اول مې واوره بیا ورسته را غبرګه زه وایم د اسد د پام بدلولو لپاره هغه باید رنډۍ ته بوځو کیدای شي له مینې یې زړه تور شي او نور به داسې سربداله نه ګرځي. یار! وخت ډیر وشو دا دې کال ته نږدې ده چې مینه یې واده شوې او هغه ورځ تر بلې خرابیږي کوم څه نه و چې مونږ د اسد لپاره ونه کړل وګوره اته نهه میاشتې کیږي چې د ښار هر پارک، کوڅه پرې ګورو خو تاثیر یې پرې ونه کړ اوس ته وایه؟

عصمت لنډ ځواب ورکړ.

ـ ډیر ښې فکر دې کړی!

بیا یې پاتې پیاله خولې ته پورته کړه له غړپ ورسته یې په اشاره ورته وویل چې ځانله پیاله ډکه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواد بیا د پیالې خوله بنده کړه شیبه ورسته یې له خپلې مخې یو ځنګ ته وخوروله.

ـ همدا ځای دې نښه وي ما په نن زمانه کې داسې مېین نه دي لیدلي او که په اسد څه وشو بیا ته له مانه خفه نشې هو...

عصمت را نیغ شو خو خبرو کې جدي ښکارېده.

ـ یار ته څه په ګډو وډو سر یې. ولې اسد یواځې ستا ملګرى دى؟ او بیا ته ملا ته د شرابو ست کوې هغه د عاشقۍ تر ځنګ یو ایمانداره ځوان دی که زه یې ومنم هغه یې نه منې. پوهېږم چې د هغې جدایي زېوولی خو څه وکړو مونږ ټولې هڅې وکړې آن وګوره ښار ته مو راوست دلته مې خپله حجره کې دېره کړ شپه او ورځ یې د پام بدلولو په هڅه کې یو اوس هم زه ملامت یم!؟

ـ چغې مه وهه زه درته همدا خبره کوم زنا داسې عمل دې چې د انسان له بدن نه د مینې ټوله نشه اوباسي. زه وایم چې دا مینه یې له دماغو والوزي او مونږ ته پخوانی اسد په لاس راشي.

ـ خو یار دا ستره ګناه ده که دا کار هغه وکړي ګناه کې مونږ هم ورسره شریکان یو.

جواد پوی شو چې دا یې راسره منې.

ـ په مینه کې ټینګار زمونږ ځواک نه بلکې مونږ کمزوري ښایي. اسد کمزورى شوی اوس به مو هره خبره منې.

خالي پیاله یې تر پتنوسه نږدې کړه ډډ بالښت ته عصمت تکیه شو.

ـ وبه ګورو نن شپه یې سر درد کاوه ځکه مې حجره کې ځانله پرېښود مونږ خو ټوله شپه په موبایل مصروف مخلوق یو کله یو سره غږېږو کله بل سره ځکه ستا خواته راغلم.

له یو څه بحث ورسته دواړو په موبایل کې سترګې ښخې کړې.

شپې ورځې ته ښه راغلاست وویل او خپله په مخه لاړه...

د سهار شین چای څکلو ورسته په بیګانۍ موضوع سره بیا وغږیدل جواد ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما بيګا شرف ته مسج کړی و. نمبر يې راليږلی اوس به ورته زنګ ووهم. دوهم زنګ جواب شو، له سلام کلام ورسته خبرې ته راغلل.

ـ ځو کسه ياست؟

ـ اغه مونږ. خو درې کسه يو خو کار يو کوي.

ـ ماته څه مشکل نشته. نوی شی دی، خوشحاله به مو کړي.

ـ ښه، ښه ادرس راکړئ؟

ـ ادرس اسانه دی خو د يو پروګرام څلور زره اخلم خبر ښه وي چې بيا دلته شور نه منم.

ـ اغه سمه ده مشکل نه لرو.

ـ هه ادرس واخله د...

ـ سمه ده بيا درته زنګ کو.

اړيکه يې پرې کړه خو عصمت خندا ونيو جواد هم ورسره ملګرتيا وکړه ښه شيبه يې پرې ګپ جوړ کړ، ورسته روان شول.

لس دقيقې بعد اسد ته ورسيدل. د عصمت کوچني ورور د چايو لوښي تولول. شيبه ورسته له حجرې ووت. له ښه راغلاست ورسته دواړه د اسد خواته کيناستل اسد په خپلو وريښمنو ويښتو کې ګوتې پورته تيرې کړې، غټې سترګې چې لاندې حلقې يې سرې معلوميدې. دوی دواړو ته يې په خوږ نظر وکتل ښکلی مخ يې مسکا معاصره کړ په کرار وغږيد:

څنګه ياست زما محافظانو بيا مې کوم خوا وړې که څنګه او پوهيږئ بيګاه خوب کې هغه د خدای په قدرت جوړه شوی نبيـ ...

جواد يې خبره غوڅه کړه پوهيده چې دا بيا د سيلاب او د هغې کيسه کوي.

ـ اسده ګوره مونږ نن تا داسې ځای له بوځو چې تا يې تر اوسه فکر هم نه دی کړی!

اسد له خندا سره نيم وخځيده.

ـ لکه چې زندان له مې بيا يئ ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دری واړو وخندل، عصمت ديوال ته ډډه شو.

ـ نه ياره له دې هم بدتر دی خو ستا لپاره ښه دی زمونږ په فکر!

ـ يارانو ما د ژوند خوړو سره خدای په اماني کړې اوس زه له دوزخه هم نه يريږم!

جواد پوه شو چې دا اوس زمونږ د ياری په نشه کې غړيږي خو بايد خلاصه ورته ووايم عصمت ته يې اشاره وکړه او د نه کولو خبره يې د ژبې سر ته راوسته او کرار يې پوکی ورکړ.

ـ اسده دا ځل مونږ تا د يوې رنډی خواته بيايو!

همدومره يې وويل خو د مخ رنګ يې وتښتيد، نور د ويلو ځواک يې نه درلود.

هغه د لاس ګوتمې سره مشغول و، پرته له دې چې په قهر شي او يا ورته وګوري په ارام يې لنډه جمله بيان کړه.

ـ مينه بايد نيکمرغي راولي نه ناروغي.

جواد ته خو دې خبرې مرګ ورکه خو عصمت ځان رانيغ کړ.

ـ منم چې دا لار غلطه ده خو ستا د وياړ لپاره وايو ته بايد خوشحاله اووسې.

اسد له ګوتمې سره لوبې کول پريښود، بره يې ورته وکتل.

ـ د وياړ ورځ که يوه ورځ وي خو د بې نومی له سلو کالو ژونده غوره ده، ته چې څه ته د وياړ په نظر ګورې هغه وياړ نه دی. وروره بد نامي او بد نومي ده هم دلته او هم هلته. د شهادت ګوته يې پورته ونيوه.

دا چې جواد يې د راضي کولو ژمنه کړې وه، ځان کې يې بيا قوت راپيدا کړ خو بل ډول وغړيد سره د غوسې.

ـ اسده! که راسره لاړ نشوې، قسم دی چې ټول عمر دې ونه ښنم او نه به درسره وخاندم ما هم مړ وبوله.

اسد په لومړي ځل دومره لويه خبره واوريده. د دوی په يارانه کې تر اوسه داسې نه و شوي چې يو بل دې په معمولي خبره خفه کړي. دا نو ورته ګرانه تماميده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې کتل یې دوی ماسره ځومره خفه دې اوس دا ناروا هم زما لپاره کوي زه د خپلې مینې ګناهګار یم.

ـ سمه ده شور مه جوړوه !ځم درسره.

دواړو ترې غیږ په یوه خندا تاؤ کړه.

درې واړو په ځان ګوتې ووهلې خو اسد دومره خیال د ځان ونه که شیبه ورسته د جواد په موټر کې راغلی بیرته سپاره شو او د رنډۍ مالک ته یې زنګ ووهه چې زمونږ تر تګ او راتګ پورې باید هیڅوک نه وي، مونږ در روان یو. دا چې د رنډۍ مالک د پیسو اوریدلي وو، په خلاصه سینه یې ورته ښه وکړه.

نن چې په اسد کوم قیامت راتلونکی دی، هیڅوک نه پوهیدل. د ښار ګڼه ګوڼه مخ په زیاتیدو وه ، خاموشي د ښپو لاندې کیده.

موټر په سرای کې ودرید. درې واړو ځانونه عجیب احساسول، لویه وجه دا وه چې دا قدم ورته لومړی و.

د ادرس سره سم مخته تللي و، د ښار لرې ښندې ته خام او پښو کورونو کوڅه کې یې د یو کور ور ته ځو ضربې ورکړې، ور زر خلاص شو. مخکې له ښه راغلاسته یې په کور ننویستل، د رنډۍ مالک له وره کوڅه کې سر ښکته پورته تاو کړ، زر شاته شو، دروازه یې بنده کړه او همدلته لنډې کوټې ته یې دننه کړل. دا کور ډیر پراخه نه و خو دوه کوټې یې عمومي دراوزې ته مخامخ لرې ښنګ ته پرتې وې او دا یوه د دروازې سره بیخي جوخته تقریباً تر منځ یې اووه متره صاف دالان یې لره. کوټه کې درې کسه خاموش او یو غړیده خبرې یې دوی ته ډیرې عجیبې او نوې ښکاریدې. اسد سر ټیټ اچولی و، جواد وویل:

مونږ ته یې څه چې پیغله او دې کار سره نوی ده زمونږ دا یو ملګری لږ د زړه بیمار دی بس دا مو راوستی سړیه باقي مونږ دوه دا کار نه کوو هو د رنډۍ مالک د لاس په خوځولو قناعت ښوونکی و غړیده.

ـ تاسې له ځانه لیوني مه جوړوئ داسې جینۍ په ټول ښار کې نه پیدا کیږي یو خوا ښایسته او بل خوا ډیره نرمه ده زه خو وایم په وار وار ورځئ سبا به ارمان کوئ خو بیا داسې شی نه میلاویږي...

عصمت یې خبرې ونیولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ګوره مونږ وایو چې یو کس دی بس یو دی. ته اوس د پیسو لپاره راته د غر نه غوښنه مه جوړوه!

ـ سمه ده خو تاسې په باغ تیریږئ او منې نه خورئ. بیا داسې وکړئ زه د یو پروګرام څلور زره اخلم .پیسې راکوه او ملګری مو ورلیږئ هغه ستاسې شی اماده دی.

جواد زر جیب ته لاس کړ، له بټوې یې غټ لوټونه جلا او سړي ته یې لاس کې کیښودل.

سړی مسکی شو، نوي لوټونه یې له نظره تیر کړل، اسد ته یې وویل:

-ورځه ځوانه او د ځوانۍ مستي دې وباسه!

اسد ملګرو ته وکتل.

هغوی د سترګو په اشاره ورته وویل چې ورځه!

د رنډۍ مالک کړکۍ ته مخ کړ:

-هه هاغه مخامخ کوټه ده ورځه ورځه ښه ډاډه.

اسد ورته بد بد وکتل، ملګرو یې دیکه کړه:

-ورځه کنه څله ناست یې!

له کړې ژمنې په شا کیدلی نشو مات مات پورته شو د کوټې له وره په وتو و چې عصمت د رنډۍ مالک ته وویل:

که هر څومره وخت یې نیوه مزاهمت به ورته نه کوئ زه د هر ساعت دوه زره درکوم.

هغې ورته په سینه غبرګ لاسونه کیښودل.

اسد له کوټې بهر څو نا زړه کرار کرار قدمونه واخیستل مخامخ کړکۍ نه پرې د ولاړې پیغلې نظر ولړید د بدن وینه یې ګرمه شوه د زړه زربان یې ان په خپله اوریدل د سترګو اوښکو یې ځان لویدو ته اماده کړ. یو قدم شاته لاړه غبرګ لاسونه یې خولې ته یوړل او کلکه یې بنده کړه پوهیدله چې چیغې مې تر اووم اسمانه رسي غاښونه لکه ماشوم چې یخ ووهي داسې کړسیدل په زړه یې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوج شو غوښتل يې را بهر يې کړي په اوښکو لامده لاسونه يې له خولې جلا کړل په بنده بنده ژبه ګويا شوه:

**خدايه مينه مينـه په داسې ځای کې وينم**

**چې کتل يې راتـه ډير ښکاري بې خونده**

**را روان کس نه هماغلته ساه واخلـــــه**

**يا خو ما کړه له دې ژوند نـــه بې ژونده**

اسد د انګړ منځ ته راورسيد، جينۍ يو دم منډه کړه، کړکۍ پرده خوره شوه، ور يې بند کړ، شاته راغله، پرده يې ونيوه ،له کړکۍ يې بيا بهر وکتل. اسد را نږدې کيدو کې و، د المارۍ تر څنګ په سينګار ميز پروت د ميوو رقاب تر څنګ يې چاقو ته پام شو. تيزه تاوه شوه چاقو يې را پورته کړ څوکه يې اسمان په طرف سترګو ته يې نيغ ونيو اسد دروازې ته ودريد خو زړه يې نه کيده چې دروازه ووهي!

د جينۍ خبرې قاتلانه شوې، اوښکې يې په ورغوي پاکې کړې، لاس يې د تشې نه په لاندې برخه راښکه ،چاقو ته مخاطب شوه:

په ياد ولره که اسد زما غوښتونکی شو نو ته ځان کې د حضرت ابراهيم د چړې خوی پيدا نه کړې بايد چټک کار وکړې، يو به ختمن له منځه وړې.

له دی سره دروازې يوه کراره ضربه وخوړه.

د جينۍ د سترګو ګاتې د دروازې طرف ته تاؤ شول بيرته يې لاندې رقابی ته کږې کړې. لاسونه يې ښکته شو. د مالګې له کوتې يې سر جلا، بيا يې ټول پياله کې خالي کړ. پياله دوه ګوتې مالګې ونيوه، له جيک نه يې پکې اوبه واچولې. دا ځل پياله پوره ډکه شوه.

دروازه کرار وټکيده، جينۍ شاته وکتل بيا يې اوتر پياله کې چاقو ښخ کړ، حرکت يې ورکه. اوبه او مالګه يې سره يو کړه ،پياله يې خولې ته پورته کړه، بې له دمې يې پياله خوله کې خالي کړه. سخته وتوخيده خو په خوله يې لاس کيښود چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړ بهر ونه وځي. د سینګار میز هنداري کې یې ځانته وکتل پوښتنه یې ورڅخه وکړه:

-باید غړ کې مې تغیر راشي !

رښتیا هم غړ ډېر شوی وو لکه ستونی یې چې پاره پاره کړی وي.

زړه کې خوښه شوه خو ظاهراً نه معلومیده. سمدستي یې له خپل څادره کلک تمبوزک وواهه، چاقو یې انتخاب ځای کې کیښود، اوښکې یې پاکې کړې، مخ یې دروازې طرف ته کړ لکه دوزخ ته چې روانه وي. دومره نا زړه دروازې ته نږدې شوه ،کونډه یې لاندې کش کړه، ور خلاص شو، بیرته په شا لاړه. دیوال سره پروت چپرکټ ته په فاصله کې مخامخ ودریده، زړه یې زیات درزیده، لاس یې پرې کیښود.

د دروازې اوار کرسار شو. اسد بوټونه وښکل، کوټې ته داخل ننوت خو بره یې نه کتل. جینی له موقعې ګټه واخیسته تیزه لاړه د ور کونډه یې بیرته بره ور ورسته ،راتاوه شوه خپل ځای کې ودریده. اسد ډېر شرم محسوساوه. همدلته ودرید.

له خولې یې کوم حرف نه واته جینۍ ورته د ناستې اشاره وکړه تاؤ شو چپرکټ کې کیناست نظر یې فرش کې ونښلو خبرې یې پیل کړې:

هیله ده تاسې خفه نشئ. زه ملګرو دلته په زور او مجبورۍ راوستی یم. زما د کار سره هیڅ زړه نه لرې او نه تاسې ته کوټې در ورم. تاسې ارامه اوسئ.

جینۍ ارامه ساه واخیسته خو د اسد غړ پسې لیونی وه ډېر خوږ پرې لږیده. په سترګو کې ډنډ اوښکې یې بیا د څادر په څوکه پاکې کړې. غوښتل یې چې ورمنده کړي او کلک یې غیږ کې ونیسي خو داسې یې نشو کولای. اسد د پخوا غوندې تازه نه ښکاریده ډېر بدلون یې کړی.

جینۍ رقابې له پام شو، ور لنډه شوه، را اوچت یې کړ. د اسد څنګ ته یې په چپرکټ کیښود. په پره پره غړ یې وویل:

-دا واخله وخوره!

اسد منو او مالټو ته وکتل سر یې وخوځاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه يې خورم مننه.

د جينۍ له خولې ناڅاپه ووتل:

-اوهو ستا خو منې خوښيږي کنه څنګه يې نه خورې؟

اسد جټکه وخوړه، جينۍ په کړې خبره پښيمانه شوه. بيا يې اوږده کړه:

- مطلب مې نن سبا ځوانان منې ډېرې خوښوي.

- هو ما هم خوښولې خو اوس مې عادتونه بدل کړي.

جينۍ په فرش ګونډې ووهلې په خپلو پوندو ورته مخامخ کيناسته.

- ولې دې عادتونه بدل کړي؟ ته ځوان يې پس له ماتې بايد بيا ځان جوړ کړې د پخوا په شان.

- ستا خبره سمه ده خو زړه چې مات شي د پخوا په شان نه جوړيږي.

جينۍ ځان ناخبره واچو.

- تاسې په مينه کې ناکام شوي ياست؟

- په مينه کې ناکام که بيا امتحان ورکړي، کاميابيږي خو ما هغه او هغې زه بايللي يم او د بايلاتو لپاره بيا امتحان نشته.

جينۍ يې څيره کې سترګې داسې ښخې کړې وې لکه څه چې پکې ترې ورک وي. سرې شونډې يې د تبوزک لاندې وخوځيدې:

- هغه کم بخته جينۍ څوک وه؟

په داسې خال کې چې اسد له خپلو ګوتو سره مصروف وو، په ډک زړه يې کيسه پيل کړه:

يوه د جنت مرغۍ، د کوهي قاف ښاپيرۍ، زما د مينې ليونۍ او د ځمکې سپوږمۍ وه. هغه شاعره نه وه خو ځينې وخت د حالاتو په کتو يې له خولې بيتونه وتل. مونږ سره نږدې له اووه کالو يو بل پيژندل باور وکه د پيغلو ډله پرې ښکلې ښکاريده. د هغې غږ مې په ډک شور کې پيژانده. د خوند خبره دا وه چې ګاونډۍ مې وه. زما له خاطره به کومې بهانې نه وې چې دې به کور کې جوړولې تر څو ما ووينې. په کومه ورځ به مو چې يو بل ونه ليدل ،مونږ ته خوب نه راتله تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې چې سبا به مو ختمن لیدل کول .زمونږ په مینه تنها زمونږ کورنۍ نه، چارچاپیره ګاونډیان او داسې نور کلیوال هم پوهیدل. باور وکه مونږ به په مثالونو کې یادیدلو. زمونږ جوړه خاص بلل کیده. هغې به چې د راتګ لپاره بانه پیدا نشوه کړای بیا به زمونږ کور ته په دیوال را چپه وه. او رښتیا دې کوټه کې د لونګو بوی زیات دی زما د لونګو بوی خوښیده هغې به همیشه په سینه پاس لونګ ګرځول، د زلفو په کمځو کې یې هم نغښتي ول. هغې لیونۍ زما له هر عادت سره مینه لرله زما خوښیده چې هغه راته داسې مخامخ کیني لکه ته چې ناسته یې او اتفاق ته وګوره زما سور رنګ خوښیده او دا کوټه له سور رنګ نه ډکه ده. هاهاها دې سره خندا ونیو خندا کې یې غږ ورک شو ورسته بدلون سره واریدل شو دواړو سلګۍ وهلې یو بل ته مخامخ خو وخت یې تر منځ داسې غرونه درولي و چې ړنګیدل یې د انسانانو نه د دیوانو کار وه دوی فکر کاوه ګوندې مونږ سره تړوله نړۍ خفه ده خو داسې نه وه یوائې تری قسمت په ځنګ و خو که خبرې یې کولای شوې ویلې به یې وو ورته:

**ستا مینه ستا په وړانــــدې تاته ناستــــه**

**ورشه تاؤ کړه ترینه غبرګ دواړه لاسونه**

یو خدای ړوند کړی و خو چې بله بینا وه هغې غږ نه کاوه.

جینې په مخ دواړه لاسونه کیښودل ډیر زړه یې وکه چې ور منډه کړه غیږ کې یې ونیسي ورته ووایي چې:

**هغه لیونۍ زه یم.**

**ما پسې ستړیه!**

**دمه شه زما غیږ کې،**

**سلګۍ مه وهه زما درسره زړه چوي.**

خو داسې نه کیده. نیغه پورته شوه، بلې کوټې ته لاړه، خوله کې یې غوټه ځادر کیښود، ښه یې وژړل. تیر وختونه یې ذهن کې تاویدل. پښې یې وترپولې، ځو سوکان یې ځمکې ته ورکړل، پلار ته یې د ښیرا لپاره لاسونه پورته کړل خو دا ترې هم نه کیده. له خولې یې صرف یوه جمله بار بار وتله « **ولې پلاره؟** »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې راټول کړ، له د چايو ډک ترموز يې سره د بورې او ډوډۍ راوخيست، واپس د اسد خواته لاړه. پياله يې ډکه کړه، په پتنوس کې يې د ډوډۍ تر څنګ کيښوده. اسد ته يې مخامخ په فرش نږدې کړه ،هغه يې په ليدلو حيران شو. پوښتنه يې وکړه:

-ته څه پوهيږې چې زه له خوږ چاې سره ډوډۍ خورم؟

له جينۍ نه لاړ ختا شوه.

ـ اغه! دغه! اغه !دد دلته چې څوک راځي، مونږ ورته داسې چاى ورکو تته لکه چې په اول ځل راغلى يې؟

اسد خبرې سره بيرته دمه شو. حيرانتيا يې ختمه شوه.

ـ هو اول ځل دى او دا هم په اول ګورم چې تاسې داسې ميلمستيا هم ورکوئ!

جينۍ د پاتې کيسې غوښتنه وکړه او د اوريدو لپاره يې ځان جوړ کړ.

پيالې نه ګرم تپونه ختل، د اسد يې بره مخ وهله پاتې کيسه يې راوخيسته:

-هسې دا کيسه خو پوره ناول دى زه هم دلته ډير وخت نشم پاتې کيدلى. ستاسې د رزق مخه نيولې کيږي. لنډه يې وايم د ښار نه مې دوه ملګري راغلي وو، مازيګر سره د خوړ په غاړه ناست وم يو بل ګاونډى کې چې زما له هر رازه خبر وه ساه او تيګاه مخې ته ودريد، بې له سلامه يې راته وويل:

-اسده ته بې غمه ناست يې او هلته يې ستا مينه کوژده کړه!

دې کس به نور څه هم ويلې و خو زه په ځان نه وم پوى شوى چې په هوش کې شوم سيروم مې لاس ته تير و ما يې پيپ په شړق له لاسه جدا کړ. ملګرو نيولى خو زه نه پاتى کيدم. له دواخانې مى ډير مزل کړى و. غوښتل مې چې د جينۍ پلار وولم خو دا مې احماقانه فيصله وه. ما زور واهه چې يو څو کلکې څپيړې مې مخ ته ونيول شوې. ايله مې پام واوښت. هماغه د ښار ملګرى جواد وه. بيا يې کينولم او نصيحت يې راته شروع کړ. رښتيا هم اوبه له ورخه تيرې وې. زما مرګه پرې يوه سهار وه. بل ماښام خو غريبى مې مخه نيولې وه .خو څو ورځې ورسته پوهه شوم چې د ښار کوم مالداره کس پرې مرګه کړې او بې له دې چې معلومات وکړي، د پيسو په بدل کې يې ورکړې. له واده يوه نيمه مياشت پس د هغې مالداره کس درک ونه لړيده، کور يې هم بدل کړى و خو پلار او ورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پرې پيسې اخيستې وي. بيا يې د مظلومې لور پانه وا نه ږوله خو رښتيا ده چې

## زوی د ادم زنده باد

## لور د حوا په هـوا

افتخار په شاعرۍ کې ډير ښه غرېږي. دلته پلاران فکر کوي چې لور د خزان د ونې هاغه سپکه پانه ده چې باد هر خوا يوړه پروا نه کوي. دلته زوی ډير محترم دی خو « لور يا د کور ده يا د ګور » زر افسوس په دې متل د پښتنو.

کيسه راتولوم هغه چې هر چيرې وي خوشحاله دې اوسي او زه ډاډه يم چې د زوی نوم به يې اسد وي. يوه خبره بله چې زه يې له ډير وخت خوب کې وينم. هميشه اوبو اخيستې وي خو ماته نه ښکارې خو بيګا چې راته ښکاره شوه ما ورته کتل خو لاس مې نه ور کاوه نه پوهيږم چې هغې سره څه روان دي؟ له سترګو اوښکه پياله کې ولويده کوټه په يو ځاځکي بيا خاموشۍ ونيوه خو دا خاموشي په سلګيو ماتيدله دوه ميين سره يو بل ته ژاړي. وخت هم عجيبه کانې کولې ملاقات يې د ميينو داسې ځای ته راوست چې بايد نه وی شوي خو د پلار بې پروايې د لور اينده داسې جوړه کړې وه چې خپل عاشق ته يې له شرمه ځان نشو معرفي کولی.

اسد پورته شو.

- هسې راسره ژاړې ته زما څه يې بايد په خپل قسمت وژاړې چې د داسې ديرې ميلمنه کړې يې باور وکړه له زړه درته خفه يم خو له وسې مې نه ده پوره چې ودې باسم. ما هميشه د رنډيو له خولې کيسې ناولونه لوستي خو نن درته ما کيسه وکړه جالبه ده کنه ده؟ ههها بايد تا واورو خو ښښه غواړم ستاسې وخت نشم نيولی زه څمه اجازه راکړئ.

جينۍ را ولاړيدو کې وه چې ويې ويل:

د رنډيو کيسې واقعي چې دردونکې وي خو **که ما درته خپله کيسه وکړه له پښو به دی ساه وخيجي.**

اسد دا خبره دومره زړه ته ونه ليږله او نه پرې پوهه شو خو جواب کې يې ورته وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ الله ﷺ دې له دې سپک بازاره ازادي په نصيب کړه.

تاو شو دروازې ته، جينۍ پسې غږ کړ:

ـ دلته خو چې هر کس راغلی بېرته تګ کې د موبايل نمبر غواړي خو تا ونه غوښت .کېږي چې زما نمبر ولیکې؟ هيله ده سوال درته کوم.

زړه يې بيا را ډک شو...

ـ ببښنه غواړم ما سر کې وويل د ملګرو لخوا مجبور شوم چې راغلم هسې نه خولې نه مې درته داسې څه ووځي چې خفه شې!

له دې سره يې ور خلاص کړ دا چې بوټان په پښو کړي يو لاس يې د دروازې بيخ کې او په بل لاس يې بوټ پښې ته جوړواه، جينۍ پرې بيا غږ وکړ. اسد پسې بره وکتل د جينۍ شاته الماری کې يې په تصوير سترګې ولږيدې!

دروازه خپله بنديدو کې وه چې د ګوتې نوک يې ترې ونيو يو اخ يې له خولې ووته جينۍ را منډه کړه چې ګوتې يې وتړي خو د اسد پام هاغه نيم تصوير ته و چې پوره نه ښکاريده کوشش يې کاوه چې تصوير پوره ووينې زړه کې يې څه ټکه لويدلې وه. جينۍ د څادر پيڅکه وشلوله، په ځان پوهه نه وه چې تمبوزک يې خلاص شوی و. د اسد زخمي ګوتې ته تاوه وه تر څو ويې تړي هغې پرې غږ وکړه :

-څه کوې!؟

جينې چې سترګې پورته کولې، نيم څادر يې پښې لاندې نيول شوی وو. اسد پوی شو چې څادر يې له مخه لويدلی. جينۍ سر راپورته کړ خو اسد ترې مخ واړو او

دا يې دروازې کې همداسې پريښوده .خلاص مخ يې پسې کتل چې د کور لويې دروازې خواته په داسې حال کې روان دی چې وينه يې له ګوتې څاڅي. ملګرو ته يې چيغه کړه. ملګری يې سره د هغې کس چې د جينۍ خاوند و، را ووتل. اسد پسې بهر په وتو کې وو چې د جينۍ خاوند غږ کړ:

-نبيلې! وه نبيلۍ! لکه چې ګاک دې بيا ځانته نه دی پريښئ ها؟ زه به تاسره ګورم

اسد د نبيلې د نوم اوريدو سره ټول څه چې يې ليدلي وو، په ذهن کې تتې څپې والې. هاغه د لونګو بوی، سور رنګ، د جينۍ ناسته، د منو کلک ست، د چايو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره وچه ډوډۍ او په تېره هاغه نیم تصویر. موده ورسته یې د نبیلې نوم واورید هغه خبره یې ورته یاده شوه:

-(که ما درته خپله کیسه وکړه له پښنو به دې ساه وخیجې) غوښتل یې په کور بیرته رامنډه کړي خو د بدن غړي یې سست شول، له پښنو یې ساه والوته. عصمت وویل:

ونیسه لاس یې زخمي شوی .بې هوشه شو. جواد په شاه تر موټره یوړ، سیده یې تر عمومي لنډ هسپتاله ورساوه. عاجل واټ کې یې داخل کړ. دواړه ملګري ورته اوتر اوتر کیدل. پنځلس دقیقې ووتې، اسد په هوش کې رانغی. جواد عصمت په اوږه وټپاوه:

-دیخوا وګوره!

عصمت سر راپورته کړ په ځنګ یې وکتل رښتیا هم حالت ډیر عجیب وو، ویې لیدل چې شیبه مخکې چاسره ناست و په وینو ککړ په تزکیره کې یې یوه زنانه اچولې، عاجل خونې ته را داخل کړه خو نبیلې ساه ورکړه. پولیس یې تر ځنګ نږدې را ورسیدل. سړی یې د جینۍ په قتل ونیو.

خو په دې راز یواځې اسد پوهیده چې قاتل د نبیلې خاوند نه، نبیله خپله ده!

خو حقیقت دا دې چې د نبیلې قاتلان پلار او ورونه وو.

پای / ایران / شهریار

(c) ketabton.com: The Digital Library





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**